په هسته کې نیوترون اوپروتون دی چې نیوترون خنثی ذره ده، اوپروتون مثبت چارج لر ي، اوپه مداروکې الیکترون دی چې منفی چارج لر ي چې په واقعیت ک ې دادرې سره زرې سره مخالفې دي اویو شانته نه دي؛ داځکه چې یوه زره به یاچارج لري اویابه يې نلری، که يې لري یابه مثبت چارج لري اویابه هم منفی چارج لري، چې داټول سره په متضادحالت کې دي، یعنې که مثبت ونومنفې نشي کیدای، که خنثي ونوبیاچارج نشی درلودلای، داس ې نشي کیدلای لکه ستاسودتثلیث عقیده چې خدای، روح القدوس اوعیسی علیه السلام داټول سره یود ی، اوس ددې څیړنومطابق کوم یوخنثی دی؟؟؟اعوذمن ذالک،نوپه یوه ټکې کې درته وایم چې حضرت عیسی علیه السلام دبیولوژ ي اوکیمیاددې اصولومطابق نه یواځ ې ستاسوتثلیث باطل ثابت شوبلکې وحدانیت يې ثابت کړ، اوهغه داچې روح القدوس بیل دی، خدای بیل دی اوحضرت عیسی علیه السلام بیل دی، اودهریوه پیژندنه بیله ده، نوسیدناحضرت عیسی علیه السلام یواځې انسان وه اویولوی پیغمبرووااوخدای نه وو.

جیمزددې ځواب په اوریدلوسره بیاددې جرئت ونکړچې بله پوښتنه راځخه وکړی.

عقاید

عبدالصمد سیال

بسم الله الرحمن الرحیم

الله تعالی دانړۍ دانسانانولپاره دامتحان دیو ډګرپه توګه پیداکړي ده ، اوددي لپاره چې انسان مکلف کړي نو عقل یې ورکړی ، ترڅو دښو اوبدو ترمینځ توپیرپرې وکړي ، الله تعالی په دي سترامتحان کې دفلاح اوبریالیتوب لپاره درې څیزونه مقررکړي دي ،

دعقیدي اصلاح ، دعمل اصلاح ، داخلاقواصلاح.

په دغه درېو وارو کې بیا اهم اوبنیادي شیء عقیده ده ، ځکه چې داعمالو اواخلاقو صحت پرعقیده ولاړدی.

که عقیده صحیح وي ، نو اعمال هم دالله تعالي په وړاندي دقبول وړګرزي.

همدارازداخلاقو ثمره هم انسان ته دعقیدي په سمون سره په لاس ورځې ، اوکه عقیده فاسده وي ، نونه اعمال معتبرګرځي اونه به انسان داخلاقو له ثمري څخه برخمن شي.

په قرآن کریم اونبوي احادیثو کې داريښتینی حقیقت په ډیروضاحت سره بیان شوی

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: (فمن یعمل من الصالحات وهومؤمن فلاکفران لسعیه واناله کاتبون.)

ژباړه: وروسته کوم څوک چې عمل صالح کوي په داسي حال کې چې هغه مؤمن وي نو دده زیار اوهڅي به له نظره ونه غورځول شي اوموږ دهغه دغه سعیې لیکو.

له دي آیت شریف څخه په واضح توګه څرګندیږي چې دصالحو اعمالو مقبولیت یوائې په عقیده اوایمان سره مشروط دی.

همدغه رازدبخاري شریفي په یوه مبارک حدیث کې دي: چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي : انماالاعمال بالنیات: الحدیث ،

ژباړه: بېشکه عملونه په نيتونوسره دي ، نودفلاح اوکاميابۍ دارومدار دعقيدي اوعمل اصلاح ده ، که چېري له انسان سره دعقيدي اوعمل صالح دولت وي ،نو هغه بېشکه چې بريمن ده ، اوکه دغه ذخيره ونه لري نو دصباپه ورځ به ډيرلوی عملونه هم ورته ګټه ونه کړي .بلکه هرڅه به يې ضائع شوي وي .

ددي مقدمي څخه دعقيدي اهميت معلوم شو ، اوس به دعقيدي دتعريف اوپيژندګلوۍ په باب هم بايد څه وليکو .

عقيده عربي لفظ دی له عقد څخه ماخوذ(اخستل شوی) دی چې لغوي يااصلي معنی يې ده «غوټه کول» ،يابنديدل ، اوپه اصطلاح ياشريعت کې ديوڅو بنيادي حقايقوپه باب پوخ يقين کولو ته عقيده ويل کيږي.

دشرعي اواصلي معنی ترمنځ يې ټرون يامناسبت داده: چې دهمدي پوخ يقين په بنياد دبنده ټول خيالات اوفکرونه داسې مضبوط شي چې ګني يوله بل سره غوټه کړل شوي دي ، يادهمدي يقين په وجودسره دانسان زړه ، دماغ اونوري ظاهري اوباطني قواوي سره بندي شي اوټول ظاهري اوباطني آلات يې دخدای تعالی جل جلاله ولوري ته متوجه شي.

له دي سره مرادف يعني په معني کې ملګری لفظ دايمان لفظ دی ، چې په لغوي معني کې دزړه باورته وايې ،اواصطلاحي معنی يې هماغه دعقيدي اصطلاحي معنی ده چې ديوڅواساسي حقايقوپه باره کې پوخ يقين کول دي

هغه حقائق چې دپاخه يقين لرل ورباندي ضروري دي :

لمړی - : له هغه اساسي حقايقوڅخه چې دعقيدي په تعريف کې ورته اشاره وشوه اولنی حقيقت دالله تعالی پروجوداووحدانيت باندي يقين لرل دي.

مطلب داچې الله تعالی واجب الوجودذات دی ،يعني الله تعالی يوداسې ذات دی چې وجوديې لازم اوحتمي دی ،اوله ټولو زمانياتو ،مکانياتو اومادياتوڅخه منزه اوپاک دی ،اوهغه واحد ذات دی ،چې نه په ذات اونه په صفاتو کې هيڅ شريک لري .

اوهغه په ټولو کماليه صفتونوسره موصوف اوله نقصانيه صفتونوڅخه مبرأ اوپاک دی دهغه صفاتوپيژندل ضروري دي ،يواځي هغه ته فريادکول کيږي ،دهغه تسبيح ويل کيږي.

دوهم =: دالله تعالی پرملائکوباندي داسي يقين کول دي:چې ملائک موجوددي ،له هرقسم ګناهونوڅخه پاک اومعصوم دی ،داسي نوراني جواهردي چې له هرقسم نشو (زياتوالي)نما (لوی والی) شهوت اوغضب يعني قهرڅخه پاک دي اوله نوروټولو مادي حوائجوڅخه لکه خوراک ،څښاک اهل اوعيال څخه مبرأ دي ، اودخدای جل جلاله دفضل ،کرم ، انعام اواحسان طلب کونکي اوهغه ته دقربت غوښتونکي دي ،

دریيم =: پرآسماني کتابونوباندي یقین لرل دي ، چې داکتابونه دالله تعالی له لوري په خپل خپل وقت کې په انبیاء کرامو « علیهم الصلواة والسلام » باندي نازل شوي دي.

اوپه دي کتابونوکې الله تعالی وخپلو بندګانوته دهدایت لاري ښودلي دي ،لکه په قرآن کریم کې چې ډیرځله دقرآن کریم صفت په هدی سره شوی دی.

اوپه دي هم دایمان راوړل ضروري دي چې داقرآن دالله تعالی کلام ده ، دقول په شکل کې مګربلاکیف .

اوددي کتابونونه آخرنی نازل شوی کتاب قران ده ،له هرقسم تغیراوتبدیل څخه ساتل شوی اودمخکینیوکتابونولپاره ناسخ دی.

څلورم = : پررسولانو باندي یقین لرل چې هغوئ « علیهم السلام » دالله تعالی غوره انسانان ،سوچه بندګان اودالله تعالي له لوري دهدایت اونیکي لاري دښودولو لپاره رالیږل شوي ؤ.

اوآخرنی نبي حضرت محمدصلی الله علیه وسلم ؤچې دده په راتګ سره دنبوت معصومه کړۍ پای ته ورسیده اوله ده څخه وروسته بل پیغمبردنیاته نه راځي.

دهغه صلی الله علیه وسلم له نبوت څخه وروسته دنبوت هردعوت ګمراهي اوضلالت بلل کیږي.

اوهغه صلی الله علیه وسلم دثقلینو یعني دپیریانانو اوټولوانسانانو لپاره رالیږل شوی پیغمبرؤ.

له هغه صلی الله علیه وسلم څخه داسلام مبین دین دنړۍ وهرکونج ته خپورشو اوکومو خلکوچې دده صلی الله علیه وسلم په ژوندانه کې پرده ایمان راوړی ، لیدلی اوپه هغه ایمان یې له دنیاڅخه سترګي پټي کړي هغوی ته اصحاب درسول الله صلی الله علیه وسلم ویل کیږي موږ له هغوی ټولو سره یوشانته محبت اوخواخوږي لرو ددوی له جملي څخه له یوه صحابي څخه هم نفرت اوبیزاري نه لرو ،

اوله هغه چاسره بغض کووڅوک چې له صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم سره بغض کوي ، اوله دوی سره محبت دین ایمان اواحسان ګڼو ، له دوی څخه نفرت کفرنفاق اوطغیان بولو.

پنځم =: دقیامت پرورځ باندي یقین لرل چې داورځ راتلونکي ده په دغه ورځ به الله تعالی ټول انسانن بیرته راوپاڅوي اوژوندي به یې کړي ،اوبعینه هغه بدنونه به یې وي اګرکه څه هم درازوالي اوباریکتوب به پکښې وي ، لکه په حدیث شریف کې چې راځي ، ان ضرس الکافرمثل احد ، ښېشکه چې دکافرغاښ داحددغره په شان وي ،

اودجنتیانوبدنونه به باریک وي

ددي مثال دادی لکه یوکوچنی هلک چې ځوان شي ،اجزاوي یې هغه اجزاء وي مګرغټوالی پکې پیداشي ، همداشان بیرته سپین ږیری شي په هغواجزاؤ کې یې باریکي راشي ،

اوپه دغه ورځ به محاسبه کیږي ، الله تعالی جل جلاله به له خپلو ټولوبندګانوسره حساب کتاب کوي اوپه دغه ورځ به مجازات ورکول کیږي ،الله تعالی به خپل معصوم بندګان جنت ته

بیایي او ګنهګاروبندګانوته به ځینوته دخپل احسان له مخي عفوکوي اوځیني نوروته به تریوڅه وخته جزاء ورکولو وروسته عفوکیږي.

اوکافران به دوزخ ته داخل کړي ، اوپه دغه ورځ به الله تعالی داعمالو تللو لپاره ترازو کښېږدي ، چې یوه ذره عمل به هم دنیکو اوبدو پوشیده نه شي ،

اوپرعذاب اوانعام دقبرباندي هم دیقین لرل ضروري دي ، ځکه چې په اخبارو کې درسول الله صلی الله علیه وسلم اوداصحابو کرام رضی الله تعالی عنهم کې ثابت دي

القبرروضة من ریاض الجنة اوحفرة من حفرالنیران.

ژباړه: قبردجنت له باغیچویوه باغیچه ده اویاداورله کندو څخه یوه کنده ده

دجنت اودوزخ وجودهم حق دی ، چې دالله تعالی مخلوق دی هیڅ کله نه فناه کیږي ،البتة دځای په اړه یې کوم مصرح نص نه دی موجود ، دوی به په هغه ځا ی کې وی چې دالله تعالی خوښه وي همدغه راز مسلمان صاحب دکبائرو ګناهونوبه دهمیش لپاره په دوزخ کې نه وي لکه څرنګه چې الله جل جلاله په همدي اړه په قرآن کریم کې فرمایي: ان الله لایغفران یشرک بالله ویغفر مادون ذالک لمن یشاء

ژباړه: بېشکه الله تعالی بخښنه نه کوي هغه چاته چې له ده سره یې شریک جوړکړی اوبخښي ورته هغه څه چې ترشرک کم ګناهونه وي هغه چاته چې خوښه یې شي ،

دیادوني وړده چې په ګناهونوکې شرک له ټولو نه غټه ګناه ده ،همدغه راز داهم باید دمسلمان په عقیده کې راګرزي چې لوی خدای جل جلاله صغیره ګناهونه وخپلو بندګانوته په اوداسه ،لمانځه اونورو کفارو سره بخښي ، لکه په قرآن کریم کې چې راځي: ان تجتنبو ا کبائر ماتنهون عنه نکفرعنکم سیئاتکم

ژباړه: که تاسو پرهیزوکړئ له هغه لویو ګناهونو څخه کوم چې تاسو ورڅخه منع شوي یاست نوموږبه لیري کړو له تاسو څخه ستاسي واړه ګناهونه

په احادیثو مبارکه ؤ کې ددي بیان شوی چې له سیئات څخه صغائرمراددي اوپه اوداسه ،لمانځه اونوروکفارو سره الله تعالی وخپل بنده ته صغائرمعافوي

شپږم =:پرقدر دخیر اوشرباندي یقین لرل ضروري دي ، چې دااندازه لیکل شوي ده تردي که ددنیاټول خلک راجمع شي کوم څه چې الله تعالی په کائن یعني موجود سره لیکلي وي هغه به معدوم نه کړي ، اوکوم چې یې معدوم لیکلی هغه به موجودنه کړي

او بالآخره ټول هغه څه چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم له لوري په قطعي اویقیني توګه ثابت وي دهغوی تسلیمول اودهغوی غاړه ښودلوته عقیده اوایمان ویل کیږي.

د مورچل

دارالافتاء

مفتي ابو ماريه

الاستفتاء:

په موسساتوکې دنده تر سره کول

محترم مفتي صاحب ؛ که يوتن د هغه موسساتو سره کار کوي چې د کوم کفري ملک څخه راغلي وي او په وطن کې فعاليت کوي نو حکم يې څه دی ؟

الجواب حامدا و مصليا وبعد: د دغه کسانو حکم د فاسقانو د ی مسلمان بايد د کفارو په ځانګړي ډول د يرغلګرو سره هيڅ ډول وظيفه ا اجراء نکړي ، او دغه موسسي په حقيقت کې ټولي ديرغلګرو د ځانګړو پروسو او پروګرامونو د سرته رسولو په موخه لګيادي .

او بل ديرغلګرو سره هرډول مرسته حرامه ده ، د وظائفو په اشغال سره ارومرو له هغوئ سره يوډول مرسته سرته رسيږي .

همدا راز چې څوک دغه وظائف اشغالوي نو د هغوئ سره به اوسيږي او د اسلامي قوانينو د مخه له کفارو سره يوځای کيدل او اوسيدل سخت حرام دي:

عَنْ سَمُرَةُ بْنُ جُنْدَبٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ «لَا تُسَاكِنُوا الْمُشْرِكِينَ وَلَا تُجَامِعُوهُمْ فَمَنْ سَاكَنَهُمْ أَوْ جَامَعَهُمْ فَهُوَ مِثْلُهُمْ». رواه الترمذي ، و الحاكم وقال «هذا حديث صحيح على شرط البخاري ومسلم ،

ترجمه: حضرت سمرة بن جندب رضی الله عنه ، له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړی دی هغه وفرمايل: له مشرکانو سره ، مه اوسيږئ ،او له هغوی سره ، مه

یوځای کیږئ ، څوک چې له کافرانو سره اوسېدل او یوځای کېدل خوښ کړي ، نو هغه په هغو کفارو کې شمېرل کیږي .

په یوه بل روایت کې داسې راغلي

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَمَّا بَعْدُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ جَامَعَ الْمُشْرِكَ وَسَكَنَ مَعَهُ فَإِنَّهُ مِثْلُهُ. رواه ابوداؤد .

ترجمة: حضرت سمرة بن جندب رضی الله عنه وويل : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : څوک چې له مشرکینو کافرانو سره یوځای شې ، او له هغوی سره اوسېدل غوره کړي ، نورنو هغه مسلمان د هماغه کفارو اومشرکینو په څېر دی .

وفي الزواجر ١١\١١ وفتاوی الرحیمیه ٣٣١\١٠ اوحی الله الی نبی من الانبیاء ان قل لقومک لایدخل مدخل اعدائي ولایلبس ملابس اعدائي ولایرکب مراکب اعدائی ولایطعم مطاعم اعدائي فیکون اعدائي کماهم اعدائي .والله تعالی اعلم

ترجمة: الله تعالی یوه پیغمبرته وحی وکړه چې خپل قوم ته ووایه: چې زما ددښمن داوسیدو سیمي ته به نه ورځئ .زما ددښمن دلباس اوجامو په څیر به جامي نه په غاړه کوئ اوزما ددښمن په سوارلیو به نه سوریږئ ، اونه به دهغوئ په ډول خوراک کوئ اوکه مو دهغوئ په ډول داکارونه وکړل نو تاسو به هم ددوئ په څیز زموږ دښمنان شئ. الزواجر عن اقتراف الکبائر لابي بکر الهیثمي رحمه الله ص١١\١١ فتاوی الرحیمیه ٣٣١\١٠

عَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيدِ ... «أن النبي صلی الله علیه وسلم قَالَ: "إِنِّي بَرِيءٌ مِنْ كُلِّ مُسْلِمٍ مَعَ مُشْرِكٍ أَلَا لَا تَرَاءَى نَارَاهُمَا ".» وفي روایة أَقَامَ مَعَ الْمُشْرِكِينَ ، وفي روایة آخر يُقِيمُ بَيْنَ أَظْهُرِ الْمُشْرِكِينَ.

رواه ابوداؤد . و الطحاوي . و النسآئي، وابن ابي شیبة، والبیهقي،

ژباړه: له خالدبن ولید رضی الله عنه څخه (دیوه اوږده حدیث په ترڅ کې نقل شوي) چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل : زه له هغه مسلمان څخه بیزار یم چې له کافر سره یوځای شوی وي ، په دې خبره ځان پوهه کړئ چې مسلمان او کافر به یو د بل اور نه سره ویني . په یوه بل روایت کې داسې توري راغلي چې زه بیزاره یم دهغه مسلمان څخه چې د کفارو سره ولاړ وي .

اوزموږ دفقهې په کتابو کې مسئله داسې ذکرشوي ده

من وافقهم من المسلمین فهو فاسق لاکافر الخ بزازیة علی هامش الهندیة ٣١١\٦

اوپه المدخل ۱۷۴\۴ کې يې دفسق لاملونه دغه لاندي څيزونه ذکرکړي دي: انه يعين اهل الکفر بذلک، وانه يترک اعانة المسلمين ، وان يتدين بغش المسلمين فينبغي للمؤمنين ان ينزه حرمة الاسلام عن هذه الرزائل الخ

وايضا في اعلاء السنن ۴۱\۱۲ لارخصة في تقويتهم على محاربة المسلمين. وقبله باسطر: والاولى للمسلم ان يحترز عن اكتساب سبب القوة لهم

قصاص بايد په څه ډول واخستل شي ؟

الاستفتاء: بعدله سلامه: موږ يوداسې کس ونيو چې دډيرو مجاهدينو په شهادت کې يې عملا لاس درلود ، اودغه کس په خپله هم په عامه اعلان کوي چې فلان اوفلان يې خپله شهيدان کړي دي. نواوس قصاصا يې بايد څه ډول قتل کړو ځيني ملګري چې دشهيدانو ورڅدي وايې چې موږ يې ذبحه کوو اوځيني وايې چې مو ږيې راځړو اوځيني بيابل څه وايې : شرعي لاره کومه ده. ؟

الجواب حامدا ومصليا وبعد: دقصاص دحکم داثبات څخه وروسته بايد دغه تن په سمه طريقه سره قتل شي ،يعني په داسې طريقې قتل چې تکليف اوسختي نه وي په کې ، اونه هم مثله اونوري نار وا طريقي په کې وي پيغمبرصلى الله عليه وسلم په د ي اړه واضح ارشادفرمايلى دى: چې کله قتل کوئ نو په سمه طريقه سره يې وکړئ:

وفي شرح معاني الاثار : باب الرجل يقتل رجلا كيف يقتل: ۱۵۸\۱۴ عن شداد بن أوس قال: قل رسول الله صلى الله عليه وسلم { إن الله كتب الإحسان على كل شيء فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة وإذا ذبحتم فأحسنوا الذبح وليحد أحدكم شفرته وليرح ذبيحته }.

فأمر النبي صلى الله عليه وسلم الناس بأن يحسنوا القتلة وأن يريحوا ما أحل الله لهم ذبحه من الأنعام فما أحل لهم قتله من بني آدم فهو أحرى أن يفعل به ذلک.

الى قوله .. وقد نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن صبر ذي الروح فلا ينبغي أن يصبر أحد لنهي النبي صلى الله عليه وسلم عن ذلک ولكن يقتل قتلا لا يكون معه شيء من النهي. ... أنه لا يجب للولي أن يفعل بالقاتل كما فعل ولكن يجب له أن يقتله لأن نكاحه إياه حرام عليه.

فكذلک صبره إياه فيما وصفنا حرام عليه ولكن له قتله كما يقتل من حل دمه بردة أو بغيرها .

هذا هو النظر وهو قول أبي حنيفة وأبي يوسف ومحمد رحمة الله عليهم أجمعين.

وفي التبيين : باب مايوجب القود ومالا. ۲۸۴\۱۷ ولو قطعت يده لا يموت إلا بالسراية.

وهي موهومة فلا يكون مشروعا ؛ ولأنه مثلة وقد نهى النبي صلى الله عليه وسلم عنها وقال عليه السلام { إن الله عز وجل كتب الإحسان على كل شيء فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة ، وإذا ذبحتم فأحسنوا الذبحة وليحد أحدكم شفرته وليرح ذبيحته } فأمر النبي صلى الله عليه وسلم بأن يحسنوا القتلة وأن يريحوا ما أحل الله ذبحه من الأنعام فما ظنک بالآدمي المكرم المحترم

جنګي جنايتونه

(جنوري

سید سعید

د۲۰۱۳ز، کال دجنوري پر ۴مه نیټه د کندهارولایت شاولیکوټ ولسوالۍ دقریان پرکلي یرغلګرودچاپې پروخت یوتن کلیوال مشهورپه(بارګزی استاذ)ببله کوم تورپوري کولوشهید کړی دی.

دجنوري پر ۵مه نیټه یرغلګروځواکونودشپنیوعملیاتوپه ترڅ کي د کابل ولایت سروبي ولسوالۍ په انکول کلي باندي چاپه وهلې ،دکورونوپه تلاشي کي یې څه جنګي توکي نه دي موندلي ،مګردوه تنه ولسي هیوادوال یې شهیدان کړي اودوه تنه یې ژوبل کړي دي.

دجنوري پر۲مه نیټه نیواکګرود هلمندولایت دنوزادولسوالۍ دخنجکي کاریزپه سیمه ک ي دچاپې پرمهال دوه تنه ملکي هیوادوال بندیان کړ ي دي.

دجنوري پر۷مه نیټه دکنړ ولایت مرکز اسعدآباد کي امریکایې نیواکګرودکورینوپوځیانوپه ملتیادیوملکي هیوادوال پرکورپه یرغل کي دوه تنه ولسي وګړي بندیان کړي او له دغه کورڅخه یې دتلاشۍ پروخت پیسې ،دښځوګېڼې اونورقیمتي شیان وړي دي.

دجنوري پر ۸مه نيټه اربکيانو دکندز د چهاردرې ولسوالۍ اخشاخ سيمه کې ديو ملکي هيوادوال په کوريرغل کړی ، يوتن ۲۵ کلن سپين ږيری اودوې ښځې يې شهيداني کړي دي .اربکيانوورروسته دغه کورتلاشي کړی اوقيمتي شيان يې ترې له ځان سره وړي دي

دجنوري پر۸مه نيټه داروزګان ولايت دچهارچينو ولسوالۍ دګوهرګين ناوې دنوجوی په کلي کي يرغلګرو شپږتنه کليوال بنديان کړي اوديادي شوي سيمي يوتن ځوان ديني عالم (مولوي شيرمحمد)يې شهيد کړی دی.

دجنوري پر۹مه نيټه يرغلګرود هرات ولايت دشينډنډولسوالۍ دزيرکوه په سيمه ک ي چاپه وهلې ،ديادشوي کلي ملاامام اويوکليوال يې بنديان کړي دي.

دجنوري پر ۱۰مه د هلمندولايت دګرشک ولسوالۍ دکلای ګز دريګن مانده په سيمه کې يرغلګرو دچاپې په ترڅ کي يوتن ولسي وګړی اسيرکړی دی.دغه رازپرهمدې نيټه يې د تخارولايت داشکمش ولسوالۍ اړوند دطاهرخان کلي کې پر يوکوردچاپې په مهال يوتن ولسي هيوادوال شهيد کړی او دوه تنه يې اسيران کړي دي.

دجنوري پر۱۰مه نيټه د ننګرهارولايت د خوګيانو ولسوالۍ کي د يرغلګرو دهاوان مرمۍ 3 ماشومان ټپيان کړي دي اود نيمروزولايت دخاشرودولسوالۍ دکرو په سيمه ک ي يې بيا دداخلي عسکروپه ملتياپه يوه چاپه کي دوه تنه ملکي هيوادوال شهيدان کړي اودوه تنه يې هم بنديان کړي دي.

دجنوري پر۱۳مه نيټه رسنيوخبرورکړچي: دميدان وردګوولايت سيداباد ولسوالۍ دتنګې درې په حسن خيلو سيمه ک ي يرغلګروځواکونوپريوه جومات په هوايې بريد کي ګڼ شمېرهيوادوال شهيدان اوټپيان کړل ،په خبرکي ويل شوي چي:لومړی پرمسجد بمبارشوی ،خلګ له بمبارورروسته له کورونوراوتلي چي شهيدان اوژوبل له خاوروڅخه راوباسي ،خو په دې وخت کي يو ځل بيا پرجومات بمبارشوی اوبل طرفته بيا پليوبهرنيواوکورنيوعسکروهغه کسان په نښه کړي چي له کورونوراوتلل ، په شهيدانو کې دامام ابو حنيفه رح دليسې استاد محمدمزمل اودوه زامن يې اودقومي مشرحاجي خړدرې زامن(صبغت الله ،عبدالباسط او نيک محمد)هم شامل دي ، په دې فاجعه کي ټول اتلس تنه ولسي هيوادوال شهيدان اوترديرشوزيات ژوبل شوي دي.

دجنوري پر ۱۴مه نيټه دغزني ولايت د شلګرولسوالۍ په منارکلي کي اربکيانودولسي وګړوپرکورونويرغل کړی ،دتلاشي پرمهال يې يوسپين ږيری (حاجي مؤمن)اويوبل تن

دخالد په نامه وهلي دي ، دعيني شاهدانو په وينا چي وروسته يې له کورونو اربکيانو نغدي پيسې ، دښځو ګڼې وړې او يو سراچه موټر يې بيولی دی.

دجنوري پر ۱۷مه نيټه داخلي عسکرو د شپې له خوا دپکتيا ولايت داومنه ولسوالۍ په سپينه کلي باندي چاپه وهلې ، څلور تنه ملکي هيوادوال يې بنديان کړي ، اود کورونو د تلاشي پرمهال يې دولسي خلګو 8 موټرسايکلونه ، 1 موټر او 25 بورۍ جنغوزي هم له ځان سره وړي دي

دجنوري پر ۱۷مه نيټه د فراه ولايت بالابلوک ولسوالۍ دپساؤ په کلي کې داخلي عسکرو يو ولسي وګړي چي په پټي کي يې اوبه لګولې ددهشکي په ډزو شهيد کړی دی.

دجنوري پر ۱۸مه نيټه د هلمند ولايت دګرشک ولسوالۍ دکلای ګز په سيمه کې دکريم داداکا په کلي کي يرغلګرو ديوې چاپې پرمهال دوه تنه ملکي هيوادوال بنديان کړي دي.

دجنوري پر ۱۹مه نيټه د کندهار ولايت شاوليکوټ ولسوالۍ دکجورناوي په سيمه کې ديرغلګرو ديو تماسي ماين په چاودنه کي ديو ملکي هيوادوال (حاجي عطاء الله) دکورنۍ څلورو ماشومانو ته مرګ ژوبله واوښته ، ويل کيږي چي يرغلګرو په ځينو غرونو او ګروندو کي تماسي ماينونه غوځولي چي له امله يې په بيلو بيلو ځايونو کي ملکي خلګو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

دجنوري پر ۲۱مه نيټه د کابل ولايت سروبي ولسوالۍ داوزبين په حسن خيل کلي کي اربکيانو په دوو تنو کليوالو ډزي کړي چي له امله يې يو تن ځای په ځای شهيد او بل ژوبل شوی دی.

دجنوري پر ۲۱مه نيټه د کندز ولايت مرکز اړوند کنم سيمي کي اشغالګرو د چاپې پرمهال دکورونو د تلاشي څخه وروسته يو تن ولسي افغان شهيد کړی او دوه کسان يې له ځان سره بنديان کړي دي.

دجنوري پر۲۱مه نيټه نيواکګرو ځواکونو دکونړ ولايت مرکز (اسعداباد) اړونده سيمه کي ديو کليوال په کور چاپه وهلې ، دکورد تلاشي څخه وروسته يې دکور څښتن له ځان سره خپل بيس ته وړی دی.

دجنوري پر۲۱مه نيټه نيواکګرو د ننګرهار ولايت دشيرزادو ولسوالۍ دتوتو کلي کي د ولسي وګړو پر کورونو يرغل کړی ، کورونه يې تلاشي کړي او په اخر کي يې يو تن ملکي هيوادوال ژوبل کړی او اته تنه يې بنديان کړي دي.

دجنوري پر ۲۱مه نیټه یرغلګرو دنورستان ولایت دکامدیش ولسوالۍ په بازکل سیمه کي پرولسي وګړو بمبارکړی چي له امله یې دوه تن شهیدان شوي دي.

دجنوري پر ۲۲مه نیټه داروزګان ولایت چهارچینو ولسوالۍ دګوهرګین ناوې سیمه ک ي یرغلګروځواکونودچاپې پرمهال څلورتنه ولسي وګړي بندیان کړي دي.

دجنوري پر ۲۷مه نیټه یرغلګرودکاپیساولایت دتګاب ولسوالۍ دجامع مسجدخطیب (ضیاألحق) او یو قومي مشر (حاجي ممتاز) له ځان سره بندیان کړي دي. دغه رازیرغلګروپه همدې ورځ ددې ولسوالۍ دلنډاخېل په سیمه کي دچاپې پرمهال دوه تنه نورولسي وګړي هم اسیرکړي دي.

دجنوري پر۲۷مه نیټه دلوګرولایت د برکي برک ولسوالۍ مرکزته نژدې یرغلګروپوځیانودرې تنه ملکي هیوادوال چي په یوه موټرکي سپاره وواودرې واړه وروڼه ووشهیدان کړي دي ،دغه پیښه دلوګرولایتي چارواکي مني اوله جزیاتوورکولویې ډډه کوي.

دجنوري پر۳۰مه نیټه یرغلګروځواکونودکورنیوعسکروپه ملتیاد ننګرهار ولایت د خوږیانو ولسوالۍ دقیلغودمیاګان کلي کي دوه تنه بزګران شهیدان کړي او نهه تنه ولسي وګړي یې بندین کړي دي.سیمه ییزوخلګورسنیوته ویلي چي سهارپه ګروندوکي په کاربوختووچي داخلي اوخارجي عسکراغلل پرخلګویې ډزې پیل کړې چي دوه تن پکي ووژل شول اوبیاچي څوک په لاس ورغلي هغه یې له ځان سره ژوندي وړي دي.دیادي ولسوالۍ ولسوال حاجي سیدرحمن هم دغه پیښه تائیدوي .

دعیني شاهدانودوینا په اساس دجنوري پر ۳۱مه د غزني ولایت مقرولسوالۍ کي اربکیانوددغي ولسوالۍ دمرکزي جامع مسجدامام اوخطیب (خلیفه ثناءالله) او دمل خیل دکلي ملا امام (مولوي حمیدالله) نیولي اوبندیان کړي دي ،دوی وایې نه پوهیږي چي اربکیانونوموړي ملایان ولي زنداني کړي دي.

مأخذونه:[بي بي سي راډیو ،ازادي = ،اسلامي اژانس ،پژواک = ،بینوا ،ویبپاڼه ،روهي = نن ټکی اسیا= اولراوبر=]

ذبیح الله (مجاهد)

څو شیبې له خپل ولس سره

السلام علیکم ! ـ زما پوښتنه داده چې په ځینو سیمو کې د امارت مجاهدین په جنګي حالت کې داسي پریکړې کوي چې کیداشي اشتباه پکي وشي ، لکه حد جاري کول ، سنګسار او قصاص ، په دې اړه څه ضوابط او اصول شته او که نه ؟ مهمند

وعلیکم السلام !ـ بلې د اسلامی امارت په هغه لائحه کې چې د مجاهدینو د رهنمایۍ لپاره تیاره شوې په (۲۲) ماده کې یې راغلي (د سیمو او سیدونکو که چېرته په حقوقي او نورو خصوماتو کې د قضیې د حل په موخه مجاهدینو ته عریضه وکړه نو هر دلګۍ مشر دا حق نه لري چې د عامو خلکو په موضوعاتو کې مداخله وکړي .البته یوازي د ولایت مسئول ، د ولسوالۍ مشر یا د هغه مرستیال کولای شي چې د عارض په عرض پاښه غور وکړي او د اړونده مراجعو د لارې دي لومړی د منځګړو په توسط په سولي او مشروع جرګه په داسې ډول موضوع ورحل او فصل کړي چې له مقدس شریعت سره ټکر ونه لري او که صلح یا د مصلحینو جرګه ممکنه نه وه بیا دې د محکمې د شتون په صورت کې محکمې ته راجع کړي او که محکمې شتون نه درلودنو په دې صورت کې دې د جید و علماء کرامو د نظر موافق اجرأت وکړي)

د پورته حکم په اساس مجاهدین په ټولو اولسي موضوعاتو کې خصوصا د شرعي حدودو په اړه خورا محتاط دي مجاهدینو ته لارښونه داده چې په ټولو شرعي احکامو او خصوصا په هغو موضوعاتو کې چې خورا احتیاط ته اړتیا لري لکه د حدودو او قصاص مسائل باید مجاهدین په داسي مسائلو کې هیڅ مداخله ونکړی بلکي یواځي مسئول کسان چې په لائحه کې صلاحیت ورکړل شوي هغوی موضوع محکمي یا د صلح جرګي یا بل مناسب اړخ ته راجع کولای شي ، عام مجاهدین له داسي کارونو بند دي ، په دې اړه ټول مسئولین هم باید په خورا دقت سره ګام واخلي او خپل ټول کړه وړه د اسلامی امارت د لائحې د حکمونو مطابق عیار کړي.

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! ـ زما سوال دادی چې په دا وروستیو کې دسولې په اړه ډنډورې ډیرې شوي دي ، آیا امارت دچاسره سوله کوي خصوصا دکابل له حکومت سره او که نه ؟ که یې نه کوی وجه یې څه کیدای شي او دا دومره تبلیغات بیا ولې کیږي ؟ محمد حلیم

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته !ـ تاسو په پوهیږئ چې دښمن لکه څومره چې په تیزي اوقوت سره زموږ پسې په نظامي ډګرکې ډیر مصارف کوي او هر راز وسله او وسیله یې کارولې ده ، همدا راز په تبلیغاتي ډګر کې هم غواړي دځینو مسائلو نه دمجاهدینو دعزم په کمزوري کولو کې کار واخلي ، خو موږ په خپلو مجاهدینو باندي باور لرو چې هیڅکه به هم دچا تر تأثیر لاندي نه راځي او نه به هم په خپلو هغو آزمویل شوو مشرانو باندي بدګمانه کیږي چې دا 18 کاله یې دپوره میړاني ، شجاعت ، غیرت ، په شریعت دالتزام ، پابندۍ او تقوا په ډګرونو کې الحمدلله خورا ښه امتحان ورکړی ، زموږ جهاد دسپیڅلي هدف لپاره ده چې هغه په اسلامي هیواد افغانستان کې یو واقعا سوچه او ریښتونی شرعي نظام ټینګول دي ، موږ ترهغو چې ټول یرغلګر له افغانستانه وتلي نه وی ترهغو به خپله وسله په اوږه ساتو او له هغه وروسته به هم هغه څه کوو چې شریعت یې راته وایي اوملت ، شهیدانو او مجاهدینو موږ ته یې آرمان درلود ، تاسو پوهیږئ چې دکابل رژیم یو بې واکه او په پردو متکو ولاړ حکومت ده چې هیڅ اسلامي او افغاني تشخص نه لري ، افغانان هیڅکله هم په ځان هغه قانون او نظام نشي منلی چې طرحه یې دیرغلګرو لخوا دیرغل په مهال ورکړل شوي او له یوې لسیزې نه زیات دخپلو خلکو ، دین او هیواد په خلاف دکفر ملاتړی وو او په هرجنایت کې ورسره شریک وو ، نو هیله کوو چې هیوادوال مو ددښمن په تبلیغاتو تیر نه ووځي ، که له چاسره خدای مکړه مجاهدینو معامله کولای په هغه زمانه کې به یې کړې وه چې حاکمیت یې په لاس کې وو او کولای شوای دمعاملو دلارې یو څه وخت نجات ومومي ، خو څرنګ چې اوس زموږ قرباني څوچنده زیاتي شوی ، مجاهدینو مو دسر ، وینو ، هډوکو او غوښو په قیمت سره دشرعی آرمان نه دفاع وکړه ، په باور سره باید ټول دوستان او دښمنان واوري چې کله به هم له خپل اسلامي هوډ او آرمان نه تیر نشو او ټوله نړۍ باید په دې اړه دامارت موقف په دقت سره درک کړي او له موږ نه یواځي دهغه څه طمع وکړي چې شریعت مو یې راته ښودنه کوي اوبس.

مجاهد صیب زما سلامونه او نیکې هیلې قبولې کړه !ـ پوښتنه مې داده چې په راتلونکي کال کې به دمجاهدینو علمیات څرنګه وی او ډیربه څوک ترهدف لاندي نیسې ، په داسې حال کې چې خارجي ځواکونه خو له افغانستانه وځي ؟ داؤد

وعلیکم السلام ! ـ ښکاره خبره ده چې په راتلونکي کال به ان شاءالله هم مجاهدین او هم ټول ملت دې ټکي ته ډیر متوجه وي چې دښمن دتیښتې په حال کې هم خپل سر او مال سلامت یو نسي ، په دې اړه ډیر ښه نظامي پروګرامونه تر لاس لاندې دي او ټول مجاهدین به هڅه وکړي چې کفار دتیښتې په مهال ښه وځپي ، همدا راز به ددښمن لوي مراکزهم آرام ته نه پریښودل کیږي ، ددښمن په صف کې دننه به عملیاتو ته ډیره توجه کیږي چې تیر کال یې ډیره ښه نتیجه ورکړي ده . همداراز به ددښمن کاروانونه او دتګ راتګ ټول ځایونه به ان شاءالله تربرید او ګواښ لاندې وي ، بل پلو کورنیو اجیرانو هم که ددعوت اوارشاد ، جلب اوجذب دکمیسیون د لارې له موږ سره اړیکې ټینګې کړی نو بیا هغو ته به دامن زمینه مساعده وي ، سر اومال به یې محفوظ وی او که چیرې لاهم خپلې مزدورۍ ته ادامه ورکړي او دخپلو خلکو اوهیواد په ضد ددښمن په صف کې پاتې شي نو دهغو دځپلو لپاره هم خورا ښه او ګټور پر وګرامونه تر کار لاندې دي چې دراتلونکي پسرلي نه وروسته به یې ټول شاهدان یو ، ان شاءالله.

زما سلامونه دې مجاهدصیب او بیا ټولو مجاهدینو ته ورسیږي ! ـ زما په زړه کې دا تشویش ده چې موږ خو ګورو چې مجاهدینو او دامارت مشرانو دجګړې او جهاد په ډګر کې ډیرې خوارۍ وایستې او هر راز قرباني یې ورکړه ، خو کله چې دښمن مات شي نوخدای مکړه چې دجهاد آرمانونه ، ځینو مصلحتونو او ناسمو پالیسیو قرباني نشي او داسلامي نظام مخه ونه نیسي ، که په دې اړه لږ اطمینان راکړئ ؟ محمد عظیم جاهد

وعلیکم السلام ! ـ ستاسو تشویش او پوښتنه بالکل پرځای ده ، خو په خپلو مشرانو کلک اعتماد او باور زموږ او تاسو دکامیابۍ لاره ده ، تاسو پوهیږي چې واقعا زموږ دشهیدانو آرمانونه او زموږ دفرد فرد مجاهد هیله هغه سوچه اسلامی حاکمیت ده ، اسلامی نظام که نه وي نو بیا موږ نه آرام غواړو او نه هم سوله ، دا اوس مو چې خپل آرام ژوند نا آرامه کړی اوهرساعت دمرګ او تهدید دګواښ سره لاس او ګریوان یو دا ټول دشرعي نظام لپاره دي، مجاهدین او ټول هیوادوال مو دې له دې ناحې نه بالکل مطمئن ووسي څومره چې زه کولای شم دامارت په نمایندګۍ اطمینان درکړم هغه داده چې موږ به په هرحال کې دخدای تعالی رضا لټو او خپل کوښښ به جاري ساتو ، ورستی بری او نه بری دازموږ داختیار کار نه ده بلکې دابه الله تعالی راکوي ، خوصبر ، استقامت ، ثبات او په خپل شرعي موقف باندې ټینګ پاتې کیدل زموږ دواک خبره ده او ان شاءالله دالار به داسلامی امارت فرد فرد مشر او کشر مجاهد پالي او خپل رب نه په دې لاره کې دلاډیر توفیق او کمک غوښتونکي یو ، هیوادوال او مجاهدین مو دې هم ددې آرمان دپوره کیدو لپاره تل دالله تعالی دربار ته لاس په دعا ووسي. مننه

شهيدې قافلې

شهيد قاري محمدحسن رحمة الله تعالى عليه لنډ ژوند ليک

شهيد قاري محمد حسن ، د مولوي بهادرصيب زوي د ندامحمد لمسى وو ، نوموړې د عليزو له ټبر سره تړاو درلود . په ۱۳۹۴ هجري قمري کال کې يې د هرات ولايت د شنډنډ ولسوالۍ د عزيزآباد په کلې کي همدې فاني نړۍ ته سترګې راوغړولي.

قاري محمد حسن د بهترينو اخلاقو او ښه فصاحت يې د هر ليدونکي توجه او مينه جلب کړې وه. ديني زده کړې يې د سيمې په مساجدو او مدارسو کې ترسره کړې، له دې سره سره يې د قرآن کريم زده کړې ته ډيره توجه وه ،ديني زده کړې که يې څه هم نيمګړې پاتې سوې خو د قرآنکريم تکړه قاري وو.

پرګران هيواد د صليبي يرغل په مهال د دښمن له لوري ژوندى ونيول سو ، او شپږ مياشتې يې په هرات کې په بند کي تيري کړي. پر صليبي يرغل لا ډيري ورځې نه وې تيرې چې بيرته يې ټوپک ته لاس کړ او د دښمن وړاندې د مبارزې په ميدان کي له ټينګ عزم سره ودرېد ، په دې وروستيو کي د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د هرات د شنډنډ ولسوالۍ لپاره د ولسوال په توګه مقرر سو ، تردې چې په شهادت ورسيد.

د ۱۴۳۳ هق کال د ۱۱ مياشتې ۱۱ نيټه او د جمعې ورځ وه، چې د اسلامي امارت يوټاکلى کميسون نوموړې ولسوالۍ ته د هيأت په شکل تللى وو ، هلته يې اولسي خلک وليدل ، شکايتونو او د هغوي نيکې مشورې يې واورېدې ، مازيګرته غونډه پاي ته ورسيده. شهيد قاري محمد حسن ، له راغلو ميلمنو (مولوي خدايداد ، ملاعبدالقيوم اخند ، ملاسلطان محمد

اخند او مولوي عبدالوهاب صاحب) سره یوځاي له همدې مجبورآباد کلي څخه ووتل، خو دوي لا لیري نه وو تللي چې د صلیبي یرغلګرو د طیارو له لوري وویشتل شول، ټول ځاي پرځاي په شهادت ورسیدل، روح دي یې ښاد او یاد دې تل وي اناالله و اناالیه راجعون

پرمېنه یې یوازي ،یو زوي او څلور لوڼې پاتې دي، مور او پلار یې هم دواړه ژوندي دي

شهید ملامحمدنعیم ژوند لیك

شهید ملامحمدنعیم د محمد پیروز زوی چ ې په ملنګ یې شهرت درلود د میدان وردګ ولایت دسیداباد ولسوالۍ دباغک دکلی اوسیدونکی وو ، په کال ۱۳۵۷ کې یې د همدې کلي په یوه دینداره کورنۍ کې دنیاته سترګې وغړولې.

له معمول سره سم یې لومړنۍ زده کړې دمسجد له امام څخه شروع ، وروسته یې د خپل ولایت په مختلفو مدارسوکي زدکړو ته ادامه ورکړه ، خو کله چې د طالبانو اسلامی تحریک د فساد پرضد پیل شو ، نوموړی لومړنی کس وو چې خپلې جهادي ج ذ بې ارکړ ترڅو مخکې له دې چې دطالبانو تحریک میدان ښارته را ورسیږي د غزني مقر ته په جهاد ک ي د ګډون لپاره ولاړ اوله هغې ورځې یې وسلوالې مبارزې ته ادامه ورکړه او زیاتره وخت به د ملګرو د مشر په صفت د جهاد په ډګر کي حاضر وو ، تردې چ ې د تقدیر فیصله وه په ۱۳۹۱/۷/۴ تاریخ د وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ د مهرو کلی ته څیرمه د صلیبي اشغالګرو د طیارو لخوا په یو ناڅاپي برید کي په شهادت ورسید ،روح دې یې ښاد او یاد دې یې تل وي انا لله و انا الیه راجعون

یاده دي وي چي: ملانعیم یو خاکسار ، جریر او با احساسه انسان وو ، تل به یې په خپل ظریفانه طبیعت د مجاهدینو ستړیاوې اوغمونه له منځه وړل.

شهید الحاج ملا خیرالرحمن (مصلح)

شهید ملا خیر الرحمن (مصلح) د نورستان ولایت د وانت ولسوالی د ژنجیگل د کل ې اوسیدونکی وو.

نوموړی د دینی علومو د زده کړې په موخه گاونډي هیواد پاکستان ته ولا ړ، لوم ړنۍ زده کړې یې د کوز ې پښتونخوا په مختلفو مد ارسو کې ترسره کړې او د فراغت سند ی ې په 15 رجب 1417 ه ق کې له سترې او مشهورې مدرسې (جامعه فاروقیه کراچۍ) څخه تر لاسه کړ.

له فراغت وروسته یې 3 کاله په دارالقران لاندهی کراچۍ کې د مدرس په حیث دنده ترسره کړه

نوموړی د خپلې سیمې د مشهور مجاهد فاروقي صیب له ډیرو نژدې ملگرو څخه ؤ، د نیکو اخلاقو مجموعه او د قوی عزم او همت خاوند ؤ، له فاروقي صاحب څخه وروسته ی ې په سیمه کې په خورا فعاله توگه جهادي فعالیت گړندی کړ، د مجاهدینو د تنظیم او انسجام په برخه کې یې فعاله ونډ ه درلوده.

دا با ایمانه مجاهد او عالم د 1388 ه ش کال د حوت په 3 نیټه د کونړ ولایت دما ړوگي ولسوالۍ اړوند په مگ لیک کې د امریکایانو پر یوه قطار له برید څخه وروسته خپل سنگر ته د ستنېدا په مهال د یوڅو تنو ملگرو په شمول په شهادت ورسید.

روح دي یې ښاد او یاد دي یې تل وي

د شهید آمر صاحب غلام علی (راشد) ژوندته لنډه کتنه :

حسن خیل

شهید آمر صاحب غلام علي (راشد) د شهید حاجي غلام جیلاني زوي د شهید عبدالمجید لمسی د وردګو ولایت د بند چک ولسوالی د خوات درې د زمانخیلو کلي په یوه دیندار ه کورني کې په **۱۳۵۳** ه ش کال کې دغه فاني دنیا ته سترګي وغړولې

په کال ۱۳۶۳ال کې دحضرت عمر فاروق په لیسه کې داخل او په ۱۳۷۳ال کې د نوموړي لیسي څخه په لوړو نمبرو کامیاب او فارغ شولو

کله چې د اسلامي امارت ځواکونه د میدان وردګو ولایت ته را ورسیدل شهید آمر صاحب خپلي اړیکي دطالبانو او دخپل شهید پلار د ملګرو سره ونیولي خپله رابطه او ورسپارلي شوي وظیفه یي شروع کړه، کله چې د اسلامي امارت ځواکونه کابل ته ننوتل شهید (راشد) ته یي د شپږمي امنیتي حوزي په دریم ماموریت کې وظیفه وسپارله ، دده د اخلاص په نتیجه کي دڅه وخت په تیریدلو د کورنیو چارو وزارت د لومړي نظام قراول مسؤلیت هم ورته وسپارل شو د څه وخت په تیریدلو د استخباراتو د لوي ریاست د لومړي نظام قراول عمومي مسؤل په نامه ونوموړل شو چي د آمریت لقب هم پدغه مسؤلیت کې ورکړل شو، په ۱۳۸۸ کال کي د کابل ولایت د خیرخاني میني د استخباراتو د ۱۵ حوزي مسؤلیت ورته وسپارل شو چې د صلیبي یرغلګرو تر راتګ پورې د کابل د سقوط تر آخریني شیبي پوري په همدغه وظیفه پاتي شو.

په کال ۱۳۸۲ ل کې چې د کفارو او دهغو د غلامانو د حکومت ! د جوش ورځي وي د طالب نوم خو پریږده چي د اسلام نوم هم چا نه شوی یادولي ، شهید آمر صاحب غلام علي (راشد) د څو خاصو ملګرو په ملګرتیا د کفارو په مقابل کې په مسلحانه جهاد شروع وکړله چي لله

الحمد په دغه مقدس عزم کې ورسره الله تعالی ډیره مرسته وکړله او یو ټولګي دمجاهدینو یې جوړ کړلو . یو کال لا نه وو تیر شوي چې د چک ولسوالي یې فتحه کړه او د اسلام ضعیف شوی حالت او لویدلي بیرغونه یې پدغه ولسوالي کې بیرته راپورته کړل او مجاهدین یې هم په اسلحو باندې سمبال کړل او دچک ولسوالي ټولې درې اوسیمې دمجاهدو طالبانو تر اثر لاندې راغلې.

یو کال لا نه وو تیر شوی چې د چک ملګرو په شهادت سره یې د شهید مولوي عبدالله (عابد) په نوم یو نظامي محاذ جوړ کړلو چې ددغه نظامي محاذ مسؤلیت هم د شهید آمرصاحب په برخه شولو.

کفاراوګوډاګیان یې په یوه محدوده سیمه کې کلابند شول او له هر لوري دمجاهدینو ګذارونهورباندې شروع شول او ځمکني لاره ورته بنده شوله او طالبانو مجاهدینو په ټوله ولسوالی کې خپل وزرونه وغوړول او کفار یې تر نن ورځې پورې په همغه وړوکي احاطه کې محاصره وساتل چې اوس دهغې اکمال په ډیرو لویو مصارفو سره کیږي ، او په هر ځل اکمال د یهودو ککري او ټانګونه د خوات په ښکلي دره کې په باغونو کې پراته اوترې پاتې شوي.

څرنګه چې شهید آمرصاحب دچک ولسوالي او وردګو ولایت مجاهدینو ته ډیر ګران او محبوب وه په هماغه انداز کې خداي بښلي خپل دین او مجاهدینو ته او خپل وطن ته ډیر صادق او مهربانه وو دهر مجاهد په زړه کې یې خاص ځاي لرلو

خدای بښلی سږ کال د اسلامي امارت لخوا د چک ولسوال تعین شولو یرغلګرو او دهغوي غلامانو د شهید آمر صاحب د شهادت او یا نیولو لپاره ۱۴ څوارلس ځلي دده په کور او کلي باندې ځمکني او هوايي چاپې ووهلې او الله پاک ورځني وساتلو.

کله چې دیهودو تلفات زیات شولو همغه وه چې سږکال د ۱۴۳۳ هق کال د ذوالحجة الحرام د میاشتي په پنځمه نیټه چې د ۱۳۹۱ کال د میزان د میاشتې له ۳۰ دیرشمي نیټي سره سمون لاره د یکشنبې په ورځ د ماښام په ۷ اوو بجو او لسو دقیقو د چک ولسوالي د ګوډه درې د پیوند کلي ته څیرمه د بې پیلوټه او جیټ الوتکو په درنه بمبارۍ کې د شهادت لوړ مقام ته لبیک ووایه ، اناالله و انا الیه راجعون ، روح دې ښاد او یاد دې تل وي

دشهید آمرصاحب یو همیشني ملګری حاجي حسیب الله (احمدي) دده ژوند یوه خاطره داسي بیانوي.

شهید آمرصاحب د ډیرو ښو اخلاقو خاوند وو الله تعالي ډیره لورینه ورباندي کړي وه ، ډیر زیات ترحم او صله رحمي او لوړ عزم یي درلود ، په عامو مسلمانانو باندي دخپلو جهادي خدمتونو او مسؤلیتونو په وخت کي ډیر مهرباني او د ترحم خاوند وو ، دهغوي به یي ډیر عزت ساتلو او همیشه به یي د عامو خلک ، علماء کرامو ، مجاهدینو ، سره مشوري کولي ، او دهغوي همکاري به یي د اسلامي امارت خواته راګرځوله ، په مجاهدینو باندي ډیر زیات ګران وو ځکه چې همیشه به دمجاهدینو ترمخ وو ، په ټولو نظامي عملیاتو ، تعروضونو او کمینونو کې به د ټولو مجاهدینو تر مخ روان وو ، دمجاهدینو څخه به نه جدا کیدلو او نه به یې خپل ځان ته ترجیع ورکوله چي زه یو مسؤل یم

مونږ دده ترمشري لاندې د کرزي د غلام حکومت د راتګ څخه دوه کاله وروسته دچک په ولسوالي عملیات وکړل چې د الله تعالي په مرسته ټوله ولسوالي مجاهدینو فتحه د اسلامي امارت بیرغ پرې ورپول شو ، اومجاهدینو ټول وسایل او سامانونه د ځان سره غنیمت راوړل ، دعملیاتو په سبا ورځ ټول خلک حیران وو او چا داسي فکر نه کولو چي دغه عملیات به مجاهدینو کړي وي ، ددغه عملیاتو لپاره د پخوا څخه کومه آمادګي نه وه نیول شوي.

دچک په ولسوالی باندې دغه عملیات چې کله شروع کیدل یوه عجیبه صحنه وه ، مازدیګر څلور بجي وي چې ماته یې خبر راکړو چې ماښام ته د ملګرو سره د زمانخیلو کلي ته ځان راورسوه ، د ماسخوتن (۸) بجي وي چي له نورملګروسره زمانخیلو ته ورغلم مجاهدین په ډیر کم تعداد سره وو خو دالله تعالي نصرت او کامیابي ډیره وه ، د زمانخیلو د کلي څخه مو حرکت وکړو دیو سراچه موټر په همکاري ټول ملګري د بمبایو په کلي کې ورته انتظار وو ، خو د پنځلسم میاشتي سپوږمي وه ، ما آمر صاحب ته وویل چي څو ورځي به مو دغه عملیات معطل کړي وو ځکه چې د پنځلسمي سپوږمي دی هسي نه چې دغه کار مو نتیجه ورنکړي ، آمر صاحب راته وویل چي نه په الله جل جلاله قسم که یي نن پریږدم ، دالله تعالي نه به نصرت غواړو او بس دوعاوي کوی ، ما چې د آمرصاحب جهادي جذبه او قوي عزم او غیرت ولیدلو نو زه هک او پک ورته حیران شوم ، کله چې د بمبایو د کلي سره له نورو مجاهدینو سره یو ځاي

شولو نو موټر مو همدلته نيژدې د هديري سره ودرولو مونږ ټول سره جمع کښيناستلو يو ملګري چې اوس شهيد شوي دي ماورته وويل چې يو آيت ووايه او دوعا وکړه ، هغه د قرآن کريم سورت وويلو او دعايي وکړه عجيبه يوه صحنه وه ، دغه د خوات دره هسې هم يوه ښکلا لري عجيبه يوه خوشبويي ترراوتله ، ددغي درې څخه ، آمرصاحب ملګري تقسيم کړل له ما سره يې خپل ملګري او شهيد مولوي صاحب برهان الله او شهيد ملا رحمت الله ملګري کړل او وی ويل چې دولسوالي دښي طرفه لوړې پوستي ته ځان ورسوي چې کله مونږ په ولسوالی کار شروع کړو نو تاسو به هم کار شروع کوي ، دری ملګري يې دولسوالي بل طرف ته وليږل او هغوي ته يې هم وظيفه ورکړه چې کله مونږ په ولسوالي کار شروع کړو بيا عسکر ستاسي خواته درځي او هغه به نيسي په دغه صحنه کې آمرصاحب په ډير ميړانه او غيرت سره نورو ملګرو ته آواز وکړو چې په ماپسي راځي خپله آمرصاحب راکټ په اوږو کړو او ملګرو مرمي ورپسي واخيستي او دولسوالي د امنيه قومنداني په طرف روان شول چې د ټولو ملګرو ترمخ روان وو ، ما په دغه صحنه کې ورته وويل چې آمرصاحب دغه راکټ يو بل ملګري ته ورکړه آمرصاحب په ځواب کې راته وويل چې زه خو دلوح محفوظ څخه نه يم راغلي او نه تر نورو مجاهدينو ښه ځوان يم همغه وو چې په ولسوالي کار شروع شو ټوله ولسوالي فتح شوه مجاهدينو ته هيڅ تاوان هم ونه رسيدلو ، دوي څخه غنيمتونه دوه پيکاوي، دوه راکټ ۱۲ ميله کلاشينکوف او يوه پايه لويه مخابره او پنځه وړي مخابري يوه تومانچه او نور سامان الات غنيمت شول او د اسلامي امارت بيرغ په چک ولسوالي ودرول شو...

همداسې په نورو ځايونو کې هم يهودو ډيري چاپې ووهلې او حتی چې ډير سخت تکليف به وو خو بيا هم آمرصاحب دمجاهدينو نه جلاکيدلو که به په شپو شپو باندې بې خوبه هم وو خو دملګرو سره به يو ځاي وو او هميشه به يې ويل چې زه دملګرو څخه کومه برتري نلرم (الله جل جلاله دې شهادت قبول او لوړې درجې دې نصيب وګرځي) امين

حضرت ابودرداء رضي الله عنه

ترتیب: مولوي میرزامحمد شکیب

په تیر پسي

ای دمشقیانو! زما له مینې او زما د نصیحت له اورېدلو څخه څه شئ ایسار کړي یاست، زه له تاسو څخه د څه شئ غوښتنه نه کوم، خیر ستاسو غواړم او اجر مې پر بل چادی، ولي زه وینم چي ستاسو علماء مري او ناپوهان موزده کړي نه کوي؟!

زه وینم چي تاسو هغه څه ته توجه کړې چي خدای ﷻ یې پخپله تکفل کړی او هغه څه مو پرې ایښي چي هغه امر درته کړی ؟! زه ولي تاسو وینم چي هغه څه راغونډوئ چي خورئ یې نه !!

ودانۍ جوړوئ او په کښي اوسیږئ!!

د هغو امیدو فکرونه کوئ چي په لاس نه درځي!!

تر تاسو وړاندي نورو قومونو هم مالونه جمعه کړي، امیدونه یې ورته ساتلي، ډیر ژر د دوي راغونډ شوي مالونه تاواني شول...

امیدونه یې تاواني شول...

کورونه یې قبرونه شول...

ای دمشقیانو! هماغه وو عادیانو مځکې له مالو او اولادو ډکي کړې... نن له ماڅخه د عادیانو میراث څوک په دوه درهم اخلي؟ خلکو داسي وژړل آن چي ژړا یې د مسجد له بهره واورېدله شوه.

له دې ورځې وروسته د خلکو مجالسو ته په دمشق کي ته راته، د دمشق په کوڅو کي ګرځیده، سوال کوونکي ته به یې ځواب ورکاوه، ناپوهو ته به یې علم ورزده کاوو، غافل به یې بیداراوه، هر فرصت به یې غنیمت ګڼی او له هره مناسبته به ګټه اخیستله.

نوموړی یوه ورځ پر یوه ډله تیریده، هغوي پر یوه کس راغونډ وو واهه یې، بښکنځل یې ورته کول، دی ورغی او ورته ویې ویل: څه خبره ده؟!!

دوئ ورته وویل: دا سړی په یوه ستره ګناه اخته شوی.

ده ورته وویل: تاسو راته ووایاست که چیري دی په څاه کي لویدلی وای تاسو نه ور څخه کیښ؟

دوئ وویل: هو! ضرور مو ایسته.

ده وویل: بښکنځل مه ورته کوئ، وهئ یې مه بلکې وعظ ورته وکړئ او پوه یې کړئ، پر دې خبره د خدای ﷻ حمد أداء کړئ چي تاسویي د دې ګناه له لویدلو څخه ساتلي یاست.

دوي ورته وویل: آیا ته بغض نه ورسره کوي؟

ده وویل: زه د ده له کړو څخه کرکه کوم، چي کله هغه پریږدي بیا مي ورور دی، هغه سړي وژړل او د توبې اعلان یې وکړ.

دا ځوان حضرت ابودرداء رضی الله عنه ته متوجه شو ورته ویې ویل: ای د رسول الله ملګریه! وصیت راته وکړه. ده ورته وویل: ای زویه! خدای ﷻ د پراخۍ پر وخت یاد لره، لوی خدای ﷻ به دې د تنګۍ په وخت کي یاد او بناد ساتي.

زویه! عالم، متعلم یا اوریدونکی جوړ شه څلورم مه جوړیږه هغه هلاکت دی.

زویه! هرو مرو مسجد باید ستا کور وي څکه ماله رسول الله ﷺ څخه اوریدلي چي ویل یې: مسجد د هر دیندار سړي کور وي، د چاچي مسجد کور وي د هغه خدای ﷻ د خوښۍ، پراخۍ او پر پل صراط د خدای ﷻ د رضوان لور ته د پوري وتلو ضامن دی.

هغه ډله ځوانان د لاري پر سر کښیناستل خبري اتري یې سره کولې او تیریدونکو ته یې کتل، نوموړي مخ ورته راواړاوه او ورته ویې ویل: ای زامنو! د مسلمان سړي د ناستي ځای خپل کور وي په هغه کي خپل ځان او نظر له خلګو خوندي کوي، پام، په کوڅو کي له ناستي څخه ځان وژغورئ څکه دا ناسته مو خوشي او ناوړه عادت کوي.

ابودرداء رضی الله تعالی عنه لا په دمشق کي وو چي ده او درداء ته معاویه بن ابي سفیان مرکه راولیږله او له نوموړي څخه یې درداء د خپل زوي لپاره وغوښتله، خو ده له دې څخه انکار وکړ چي هغه ته یې په نکاح ورکړي بلکه نوموړي د عامو مسلمانانو یو ځوان ته ورکړه چي د ده د هغه دینداري او اخلاق خوښ شوي وو، دا خبره په خلکو کي خوره شوه، خلک به ږغیدل، د ابو درداء لور ته یزید بن معاویه مرکه وکړه خو د دې پلار ونه منله او د عامو مسلمانانو له ډلې یې یو تن ته ورکړه.

يو پوښتونکي له ابودرداء څخه د دې لامل پوښتنه وکړه، ده ورته وويل: ما په دې کار کي د درداء ګټه ليده څکه مي وکړ.

هغه ورته وويل: هغه څنګه؟

ده وويل: تاسو د درداء په اړه څه ګمان کوئ چي د څوړ لپاره يي خادمان مخې ته ولاړ واي، په داسي ماڼيو کي اوسيدلای چي بريښ يي نظر وړي...

په دې وخت کي به د دې دين څرنګه ګرځيدلی وای؟!

د هغه وخت په اوږدو کي چي ابودرداء په شام کي ميشت وو، امير المؤمنين عمر بن خطاب رض يوځلې ورغی تر څو د دوئ احوال واخلي، د شپې له خوا د خپل ملګري ابودرداء د زيارت لپاره د نوموړي هستوګنځي ته ورغی، دروازه يي ور پوري وهله هغه ځنځير او قلف نه وه، يوې داسي کوټې ته ورداخل شو چي روښنايي پکي نه وه، ابودرداء چي کله د ده ور تلل حس کړل هر کلی يي ور ته ووايه او کښيناوه يي.

دواړو خبرې په داسي حال کي سره تبادله کولې چي تاريکيو هر يوه بل څخه تر خپل وزر لاندي ساتلي وو.

حضرت عمر رض د ابودرداء بالښت ته لاس وروووړ هغه د اوښ ځل وُ، نالی ته يي لاس وروووړ هغه شګي وې... بړستنې ته يي لاس وروووړ هغه يوه داسي نرمه شړۍ وه چي د دمشق په يخ کي يي هيڅ کفايت هم نه کاوه.

حضرت عمر رض ور ته وويل: خداي ﷻ دې درباندي ورحميږي، زه پر اخي درباندي راولم آيا څه شئ در ته راوليږم؟!

ابودرداء رض ور ته وويل: ای عمره! هغه حديث دې ياد دی چي موږ ته رسول الله ﷺ ووايه؟

عمر رض: کوم حديث؟

ابودرداء رض: آيا ويي نه ويل: هرو مرو دې له دنيا څخه بر خه ستاسو د يوتن دومره وي لکه د يو سپاره خرڅه؟

عمر رض: هو! ويي ويل: ابودرداء رض: نو موږ له ده وروسته څه وکړل؟

حضرت عمر رض وژړل، ابودرداء رض هم ور سره وژړل، تر هغو يي يو له بل سره وژړل چي سپيدې ور باندي وچاودېدي.

ابودرداء رض په دمشق کي پاتې وو، خلکو ته يي نصيحت او تذکره کوله، کتاب الله او حکمتونه يي تر هغو ور زده کول آن چي مرګ ور ته راغی، کله چي د مرګ يي خوږوونيو ملګري، ور ته راغلل ور ته ويي ويل: له څه شئ سرټکونه کوې؟

ده وويل: له گناهونو.

ملگرو: څه شئ ته دې شوق کيږي؟

ابودرداء رض: د خپل خدای ﷻ بخښنې ته.

وروسته يې خپل گيرچاپيره خلکو ته وويل: ماته د لااله الاالله محمدرسول الله، تلقين کوئ، وروسته يې ترهغو داکلمه ويله آن چې له ژوندسره يې مخه ښه وکړه.

کله چې ابودرداء رض د څښتن جوار ته نقل وکړ عوف بن مالک اشجعي په خوب کې يوه شنه تالا وليده چې ډيره پراخه وه ښه تکه شنه وه، د چمړې څخه يوه ستره خيمه پکښې ولاړه وه، شاوخوايې دومره پسونه پناوو چې سترگو هيڅکله دومره څه نه وو ليدلي ده وپوښتل دادچادي؟!

ورته وويل شول: د عبدالرحمن بن عوف رض دي.

عبدالرحمن بن عوف رض له هغې خيمې څخه ورباندې رابنکاره شي او ورته ووايي: ای ابن مالکه! دا هغه څه دي چې لوي خداي ﷻ ماته د قرآن له کبله راکړي.

که پردغه لاره وربنکاره شي داسي څه به ووينې چې تر اوسه به سترگو نه وي ليدلي، داسي څه به واورې چې غوږو به دي تر اوسه نه وي اوريدلي، داسي څه به ومومې چې په خيال کې به دي هم کله نه وي درگرځيدلي.

ده وويل: دا خداي ﷻ د ابودرداء رض لپاره مهيا کړي، ځکه نوموړي له ځانه دنيا په دواړو لاسونو او سينه پورې وهله.

له (الصورمن حياة الصحابة) نومي کتاب څخه

دانشگاه مسیحی کابل

American University

مولوی عبدالهادی (مجاهد)

پس منظر

غربیها از آغاز اسلام تاکنون همواره تلاش نموده اند تا کشورهای اسلامی راتحت تسلط خود درآورند، وحاکمیت اسلام را از بین ببرند. بمقصد رسیدن به همین هدف جنگهای صلیبی رابراه انداخته، وبه بهانهٔ تسخیر (القدس) چند صد سال مسلسل به جمع آوری لشکر پرداختند، ودر عالم اسلام صدها هزار مسلمان رابه قتل رسانیدند، امابه هدف شان دست نیافتند، چنانچه (گاردنر) مشهور ترین منصرین غرب درافریقای اسلامی میگوید:

(جنگهای صلیبی نتوانست (القدس) را برای همیشه از تسلط مسلمانان خارج سازد ودر قلب جهان اسلام یک دولت مسیحی را تأسیس نماید).

نامبرده اضافه می کند:

(جنگهای صلیبی نسبت به تسخیر القدس، بیشتر به مقصداز بین بردن اسلام راه اندازی شده بودند).

همین جنگهای صلیبی بعدها شکل جنگهای استعماری را بخود گرفت که ظاهراً اهداف امپریالیستی واقتصادی داشت، که درنتیجهٔ آن تقریباً همهٔ عالم اسلام را تحت سیطرهٔ خویش درآورد، ومسلمانان رابرای مدت طولانی محکوم نگهداشت، وشریعت را از زندگی اجتماعی وسیاسی مردم جبراً دورساخت، اگر چه در دلهای مردم جاداشت.

اما در آغاز قرن بیستم زمانیکه در نتیجهٔ جد وجهد حرکتهای آزادی خواه گلیم استعمار اروپایی شروع به جمع شدن نمود، انگلیسها نقش استعماری خودرامخصوصا بعداز جنگ

جهانی دوم به امریکا سپردند، زیرا ستارهٔ بخت آنها روز به روز درحال افول وزوال، وستارهٔ امریکا در حال صعود بود.

امریکاییها که ازمشکلات دوران حاکمیت استعماری اروپاییان درس عبرت گرفته بودند برای تسخیر عالم اسلام یک طریقه واستراتیژی جدیدی راوضع نمودند، که اساسش برکوششهای کلیسا وتعلیم استوار بود.

امریکا مبلغین مسیحی را وظیفه داد تا در کشورهای اسلامی که تا آنزمان تحت استعمار اروپاییها قرار داشتند از طریق تأسیس مکاتب، کالج ها، ودانشگاه هایک نسل نوینی را تربیه کنند که افرادش تنها به نام مسلمان باشند، ودر واقعیت هیچ همدردی با اسلام ومسلمانان نداشته باشند. دین، فکر، اخلاق، فرهنگ وشیوهٔ زندگی شان امریکایی باشد، تاافراد همین نسل نوین بعد از فراغت شان امورکشورها را بدست بگیرند. واین بار مستعمره نگهداشتن کشورهای اسلامی از طریق Westernization (غربی سازی) آنها دوام یابد.

کلیسادرکشورهای اسلامی به ایجاد ادارات ومراکز تعلیمی اقدام کرد که درحقیقت برای تحقق اهداف جنگهای استعماری صلیبی به مثابه یک جبههٔ جنگ بودند، اما در ظاهر شعارهای (تعلیم)، (انسانیت) و(ترحم) را بلند میکردند.

لطفی لیفونیان منصّر ارمنی الاصل میگوید: (زمانیکه کشورهای اروپایی درجنگهای صلیبی شکست خوردند، خواستند برضد مسلمانان جنگ دیگری را از طریق تعلیم وتبلیغ راه اندازی کنند، واین بارکلیساها، مبلغین مسیحی، مکاتب، دانشگاه ها وشفاخانه ها را به کار گماشتند، وهزارها تن از مبلغین مسیحی رادرجهان اسلام پراگنده نمودند).

این استراتیژی امریکا بسیار مؤثر واقع شد. زیرا این بارنه تنها مردم درکشورهای اسلامی از آنها نفرت نمیکردند، بلکه مردم فرزندان خود راباقبول مصارف مالی گزاف دراختیار آنها به منظور آموزش و تعلیم گذاشتند، وآیندهٔ نسل جدیدراخودبه تبشیریهای مسیحی (تبلیغی های مسیحی) سپردند.

مسیحیت در پردهٔ تعلیم

زمانیکه منصرین امریکایی مسیحی پروتستانت درجهان اسلام ازمراکش الی اندونیزیا پراگنده شدند مشاهده نمودند که درینجا مردم به قبول مسیحیت آماده نیستند، بلکه به سبب ظلم استعمار اروپایی نفرت مسلمانان در برابر مسیحیت نسبت به گذشته بیشترگردیده، وبعضی از ساحاتی که تا آنزمان تحت کنترول خلافت عثمانی قرار داشتند باپخش ونشر

مسیحیت مخالفت می نمایند. پس همان بود که مبلغین مسیحی امریکایی برای فعالیت مسیحی خود دواقدام مهم ذیل را انجام دادند.

اول: مبلغین مسیحی فعالیتهای خودرا در مناطقی چون لبنان ومصر آغازکردندکه اقلیتهای مسیحی از قبل در آنجا موجود بودند.آنها این ساحات را منحیث مراکزی برای انجام فعالیت هایشان درمناطق دیگر به بهانهٔ اینکه گویا آنهابه مسیحیان محلی کار میکنند، وکسی حق اعتراض برآنهارا ندارد اتخاذ نمودند.

دوم:آنها پروژه های خود را در شکل بهترین مراکز تعلیمی که براساس معیارهای بسیار عالی استوار بودندآغاز کردند. نتیجهٔ این کار آن شد که بعد از گذشت یک مدتی مسلمانان ثروتمند منطقه نیز فرزندان شانرا درین مراکز شامل نمودند، وبا گذشت زمان وکوششهای مستمر، ودر نتیجهٔ کسب نفوذ وتأثیر برحکام محلی بالآخره امریکا این مکاتب را به مراکز مهم تحصیلات عالی مبدل کرد که بعضی ازآنها بعدها به شکل دانشگاه های امریکایی American Universities ظهورکردند که درین بحث معرفی عدهٔ ازآنها خدمت خوانندگان تقدیم میگردد.

انتخاب مراکز مهم جهان اسلام برای تأسیس دانشگاه های امریکایی

منصرین امریکایی برای تأسیس دانشگاه ها آن مناطقی را انتخاب نموده اند که از یکطرف درآنجابادست باز فعالیت بتوانند، واز جانب دیگر مناطق متذکره از لحاظ سیاسی، اجتماعی، اقتصادی، ودینی بر مناطق دیگر یکه دراطراف آن موقعیت دارند تأثیر داشته باشند، تا همین تأثیر درنشر فعالیتهای امریکایی نیز ممد واقع گردد.

مؤثرترین مناطق مستهدف برای این پلان شهر های(بیروت)، (قاهره)، (استانبول) واکنون(کابل) تعین گردیدند، که درمورد اهمیت هر یکی ازین مناطق چند سطری به گونهٔ ذیل تقدیم میگردند:

بیروت لبنان:برای تأسیس دانشگاه امریکایی لبنان از آنجهت مهم بود که از یکطرف درساحل بحیرهٔ مدیترانه در سمت مقابل بااروپا موقعیت دارد، وامریکا ازطریق بحر مستقیماً به آن راه دارد، واز جانب دیگر در بیروت اقلیتهای نامسلمانی چون (مسیحیان مارون)، (درزیها)، (ارمنیها) و(اسماعیلیها)سکونت داشتند که وجودآنها برای فعالیتهای امریکایی زمینهٔ مساعدی را مهیا می نمود. ومهمتراینکه مناطق سوریه، عراق، فلسطین، اردن وکشورهای جزیرهٔ عرب به شکل مؤثر از لبنان تحت شعاع قرار میگرفت.

قاهرهٔ مصر :کشور مصر که از یکطرف درکنار بحیرهٔ مدیترانه موقعیت دارد واز جانب دیگر حیثیت پل رامیان براعظمهای آسیا وافریقا داشته ، وباداشتن دانشگاه (الأزهر) وداشتن تمدن تاریخی وسیاسی حیثیت یک مرکز علمی وفرهنگی رابرای همهٔ افریقای شمالی ومرکزی بخود گرفته است. ودرکنار این در اواخر قرن نوزدهم واوائل قرن بیستم خانواده حاکم (محمد علی) که غرب راقبلهٔ آمال خود گردانیده بود ، ومصر را از خلافت عثمانی جداساخته بود میخواست همه چیز رادرمصر مطابق فرهنگ غرب عیار نماید .

درکنارهمهٔ اینها مسیحیهای مصر (قبطیها) نیز یکبار در عهد استعمارفرانسه وسپس در زمان استعمار انگلس رشد قابل ملاحظهٔ نموده بودند. همهٔ این اسباب برای (منصرین) امریکایی زمینهٔ پخش ونشر مسیحیت وبراه انداختن پروسهٔ تعلیم به شیوهٔ غربی، وباز کردن دانشگاه امریکایی را مساعد ساخته بود .

استانبول ترکیه : شهراستانبول که تقریباً پنج قرن مرکز خلافت اسلامی درترکیه بود ، وبه سبب وجودمساجد زیبادرآن دردنیا بنام (شهر مناره ها) یاد می گردید ، و عثمانیها خلافت عظیمی را از همانجا اداره میکرد ند وبه هر طرف فتوحات داشتند ، به حدی که در اروپای شرقی نیز ساحات زیادی رافتح نموده بودند . ولی دراخیر دراثرضعف داخلی وتوطئه های یهودی ومسیحی به زوال روبرو گردیدند. مرکز این خلافت (شهر استانبول) نیز برای منصرین امریکایی بمنظور فعالیتهای تعلیمی شان موقعیت جالبی بود. از همین جهت آنهادرآنجا نخست کالج (رابرت) را تأسیس نمودند ، که بعدها درعهد ترکیهٔ سیکولر به دانشگاه امریکایی تبدیل گردید.

کابل افغانستان : افغانستان که درطول تاریخ یک قلعهٔ مستحکم اسلام وسرزمین جهاد وفداکاریها برای اسلام بوده ، ومردمش همیشه بانیروی ایمان دربرابر قوتهای بزرگ دنیا بامردانگی ومتانت ایستادگی نموده اند ، وزوال قوتهای بزرگ دنیا نیز از همینجا آغاز شده است نیز دارای اهمیتی زیادی برای منصرین است.

همهٔ این رشادتهادرسرزمین افغانها به این دلیل به عمل آمده که مردم این سر زمین برای همیشه بر ایمان ، شریعت ، فرهنگ اسلامی ، وازرشهای ملی واخلاقی خود محکم واستوار باقیمانده اند ، ورنگ وفرهنگ بیگانگان را نپذیرفته اند .وبه همین خالص بودن وفطریت شان توانستند تادرنتیجهٔ جهاد عظیم شان چهارده صد سال بعد نیز نظام اسلامی را همرنگ نظام صدرسلام قائم نمایند.

اما این کار برای غرب ودر رأسش امریکا که میخواهد همهٔ دنیا را به بهانهٔ (گلوبلایزیشن) درخُم امریکا رنگ نماید، وهمه را تحت بیرق خود قراردهد قابل قبول نبود. به همین سبب با همراهی رفقای صلیبی اش یکجا برضد افغانستان جنگ بزرگ صلیبی را آغاز نمود، وبا تسخیر کابل اندکی بعد بنیادیک دانشگاه امریکایی رادرین شهر گذاشت، که تفصیلات آن درصفحات بعدی بیان خواهند شد.

چرا دانشگاهای امریکایی در جهان اسلام ؟

باوجود آنکه هزاران جوان از گوشه وکنارجهان اسلام مصروف فراگرفتن تعلیمات درغرب اند، واز محیط آنجا متاثر نیز می شوند، پس چرابه تأسیس دانشگاهای امریکایی در جهان اسلام ضرورت افتاد ؟

جواب این پرسش رامدتها قبل مؤسس دانشگاه امریکایی بیروت **Denial Bless** درسال (۱۸۲۲م) چنین داده بود:

(تأسیس یک ادارهٔ بزرگ تحصیلات عالی در لبنان از آنجهت ضروراست که آنعده جوانان جهان اسلام که در غرب ودانشگاهای امریکا تحصیلات شانرا به پایان میرسانند، اکثریت آنها به کشورهایشان برنمیگردند تادرینجابا مبلغین امریکایی مستقیما کمک نمایند، بلکه همانجادرغرب به کارها ووظائف مصروف میگرد ند. اما برعکس آنهافارغین مکتب (سیمون کالهون) ـ مکتبی که درسال (۱۸۳۵م) در لبنان توسط (سیمون کالهون) تأسیس شده و بنام خودش مسمی گردید ـ همه عملاً درکشورهای اسلامی درمکاتب مبلغین مسیحی بحیث استاذان، مبلغین، وپرسونل اداری مصروف کار هستند)

همین علت باعث شده تا امریکاییها و مؤسسات تعلیمی امریکا اینجادرکشورهای اسلامی ادارات تحصیلات عالی خود راتأسیس نمایند.

اهداف دانشگاهای امریکایی در جهان اسلام:

قبل ازینکه در موردانشگاهای مشهور امریکایی درجهان اسلام بحث مفصل داشته باشیم بهتر میدانم تابه شکل عمومی از اهداف ومقاصدی مختصراً یادآوی نمایم که این دانشگاهابرای رسیدن به آنها تأسیس میشوند، وملیاردها دالر برآنها به مصرف میرسد:

هدف اول _ تسخیر قدرت سیاسی کشورهای اسلامی:

دانشگاه های امریکایی درجهان اسلام به تربیهٔ شاگردان در عرصه های می پردازند که فردا آن شاگردان بتوانند در بخشهای تعلیم، سیاست، اداره، اجتماع، اقتصاد، فرهنگ وارتش صلاحیتهای اداره وقیادت راحاصل نمایند. تا امریکا ازطریق آنهاموفق به تسخیر قدرت

سیاسی در کشورهای اسلامی گردد، ونظام سیاسی رادرکشورهای اسلامی مطابق خواسته های غرب بر پاکند.

تاریخ وتجربه هردوثابت نموده اندکه همین شاگردان منافق صفت امریکاییهادرعملیهٔ از بین بردن قوانین واحکام اسلامی ماهرتر وسخت دل تر ازامریکاییها عمل میکنند.

